## دافغانستان اسلامی جمهوریت

## دعدلیې وزارت

# رسمی جریده

- د دیپلوماتیکو او قونسلی کارکوونکو قانون
- دمعلوماتی اومخابراتی تکنالوژی د انستیتوت اساسنامه

- قـــانون کارکنان دیپلوماتیک وقونسلی
- اساسنامه انستیتوت تکنالوژی معلوماتی ومخابراتی

دخپریدو نیته د ۱۳۹۲هــ.ش کال د غوائی دمیاشتی (۴) پرله پسی نمبر (۱۱۰۵)

تاریخ نشر : ( ۴) ثور سال ۱۳۹۲هــ. ش نمبرمسلسل (۱۱۰۵)

**در این شماره :**

١- قانون کارکنان دیپلوماتیک و قونسلی از صفحه (١-٥).
٢- اساسنامه انستیتوت تکنالوژی معلوماتی و مخابراتی صفحه (٦-٣٠)

**د امتیاز خاوند : دعدلیی وزارت**

مسؤل چلوونکی : قانونمل محمدرحیم "دقیق"

٠٧٠٠٥٨٧٤٥٧

ددفتر تیلفون : ٢١٠٣٣٧٥

مرستیال : نور علم ٠٧٠٠١٤٧١٧٨

مهتمم: محمدجان ٠٧٠٠٣٩٥٢٩٢

ویب سایت : www.moj.gov.af

**قیمت این شماره : ........................... .. .......(٤٠) افغانی**

**تیراژ چاپ اول :................................ . ....(٣٠٠٠)جلد**

**آدرس :وزارت عدلیه ، ریاست نشرات ، چهارراهی پشتونستان ، کابل**

**ددیپلوماتیکو اوقونسلي کارکوونکو دقانون دتوشېح په هکله د افغانستان د اسلامي جمهوریت د رئیس**

**فرمان**

ګڼه: (۱۴۳)

نېټه: ۱۳۹۱/۷/۵

**لومړۍ ماده:**

د افغانستان د اساسي قانون د (۶۴) مادې د (۱۶) فقرې د حکم له مخې، د دیپلوماتیکو او قونسلي کارکوونکو قانون چې د ملي شوري د مجلسینو د ګډ هیئت د ۲۷/ ۱۰/ ۱۳۹۱ نېټې د (۸۴) ګڼې پرېکړې پربنسټ، په (۳) فصلونو او (۸) مادوکې تصویب شوی، توشېح کوم.

**دوه یمه ماده:**

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او له قانون او د ملي شوري له پرېکړو سره یو ځای دې، په رسمي جریده کې خپور شي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان داسلامي جمهوریت**

**رئیس**

**فرمان**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

**در مورد توشیح قانون کارکنان دیپلوماتیک و قونسلی**

شماره: (۱۴۳)

تاریخ: ۱۳۹۱/۷/۵

**مادهٔ اول:**

به تأسی از حکم فقرهٔ (۱۶) مادهٔ (۶۴) قانون اساسی افغانستان، قانون کارکنان دیپلوماتیک و قونسلی را که بر اساس فیصلهٔ شماره (۸۴) مؤرخ۱۳۹۱/۱۰/۲۷ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی به داخل (۳) فصل و (۸) ماده به تصویب رسیده، توشیح می دارم.

**مادهٔ دوم:**

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و همراه با قانون و فیصله های شورای ملی در جریدهٔ رسمی نشر گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

فيصله

د ديپلوماتيکو او قونسلي کارکوونکو قانون

ګڼه: (۸۴)

نېټه: ۲۷/ ۱۰/ ۱۳۹۱

د افغانستان داساسي قانون دپنځمه نوي يمې او سلمې مادې له درج شويو حکمونو سره سم، دملي شوري د دواړو غونډو له دريېو دريېو غړو څخه جوړ شوي ګډ هيئت د ديپلوماتيکو او قونسلي کارکوونکو قانون په درې فصلونو او اتو مادوکې له يو شمير تعـديلـونو اوايـزاد سـره د۱۳۹۱ کال دمرغومي دمياشتې په (۲۷) نېټې فيصله کړ.

د ګډ هيئت رئيس

داکتر عبدالقيوم "سجادي"

د ګډ هيئت مرستيال

نجيبه "حسيني"

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

فيصله

قانون کارکنان ديپلوماتيک و قونسلی

شماره: (۸۴)

تاريخ: ۱۳۹۱/۱۰/۲۷

به تأسی از حکم مندرج مادۀ نود وپنجم و مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هيئت مختلط مجلسين شورای ملی مرکب از سه سه نفر از اعضای هـر جرگــه، قــانون کارکنان ديپلوماتيک و قونسلی را به داخل سه فصل و هشت ماده توأم با يک سلسله تعديل و ايزاد در جلسـۀ مـؤرخ (۲۷) ماه جدی سال ۱۳۹۱ فيصله نمود.

رئيس هيئت مختلط

داکتر عبدالقيوم "سجادی"

معاون هيئت مختلط

نجيبه "حسينی"

## فهرست مندرجات

## قانون کارکنان دیپلوماتیک و قونسلی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
| --- | --- | --- |
| مادهٔ اول: | مبنی | ۱ |
| مادهٔ دوم: | هدف | ۱ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۲ |
| مادهٔ چهارم: | نمایندهٔ سیاسی دولت | ۲ |
| | **فصل دوم** | |
| | **مقرری و امتیازات کارکنان** | |
| | **دیپلوماتیک و قونسلی** | |
| مادهٔ پنجم: | شرایط تقرر | ۳ |
| مادهٔ ششم: | تبدیلی کارکنان | ۴ |
| مادهٔ هفتم: | حقوق و امتیازات | ۴ |
| | **فصل سوم** | |
| | **احکام نهایی** | |
| مادهٔ هشتم: | ادامه کارکنان موجود | ۵ |

# د ډيپلوماتيکو او قونسلي کارکوونکو قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د پنځه نوي يمې مادې د حکم پر بنسټ، په ډيپلوماتيکو او قونسلي کارکوونکو پورې د اړوندو چارو د تنظيم په موخه وضع شوی دی.

**موخه**

**دوه يمه ماده:**

دغه قانون لاندې موخې لري:

۱- د هېواد د لوړو ګټو په پام کې نيولو سره د اهليت، وړتيا، تجربې او تخصص پر بنسټ د ډيپلوماتيکو او قونسلي کارکوونکو ټاکل.

۲- د هېواد د بهرني سياست د موخو پلې کېدل، او په بهرنيو هېوادونو کې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د

# قانون کارکنان ديپلوماتيک و قونسلی

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

اين قانون به تأسی از حکم مادۀ نود وپنجم قانون اساسی افغانستان به منظور تنظيم امور مربوط به کارکنان ديپلوماتيک و قونسلی وضع گرديده است.

**هدف**

**مادۀ دوم:**

اين قانون دارای اهداف ذيل می باشد:

۱- تعيين کارکنان ديپلوماتيک و قونسلی بادرنظر داشت منافع عليای کشور بر اساس اهليت، شايستگی، تخصص و تجربه.

۲- تحقق اهداف سياست خارجی کشور، دفاع از حقوق و منافع مشروع و قانونی اتباع دولت

اتباعو له قانوني حقونو او مشروع ګټــو څخه دفاع کول.

**اصطلاحګانې**

**درېيمه ماده:**

په دې قانون کې لاندې اصــطلاحګانې لاندنۍ معناوې افاده کوي:

۱- په ديپلوماتيکو کـــارکوونکو کـــې ديپلوماتيک غړي (سفير، وزير مختـــار، مستشار وزير مختار، مستشار او لومړی، دوه يم، او درېيم سکرتر) شامل دي.

۲- د ســـفارتخانــو يـــا قونســـلګريو سياسي آستازي (جنـــرال قونسل، قونسل او د قونسل مرستيال) دي.

۳- سياسي نمايندګۍ، د افغانســـتان د اسلامـــي جمهـــوري دولـــت ســـفارت خانې يا قونسلګرۍ دي چــې د بهرنـــي سياست د پلي کېدو او په بهرنيو هېوادونو کې د هېواد دحقونو، د قانوني او مشروع ګټو د دفاع لپاره تأسيسېږي.

**د دولت سياسي استازي**

**څلورمه ماده:**

ديپلوماتيک کـــارکوونکي د دولـــت د

جمهـــوری اســـلامی افغانســـتان در دول خارجی.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی در این قانون مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- کارکنان دیپلوماتیک شامل اعضای دیپلوماتیک (سفیر، وزیر مختار، مستشار وزیر مختار، مستشار و سکرتر اول، دوم و سوم) می باشند.

۲- نمایندگی های سیاسی سفارت خانه ها یا قونسلگری (جنرال قونسل، قونسل و معاون قونسل) می باشند.

۳- نمایندگی های سیاسی، سفارت خانه یا قونسلگری های دولـــت جمهـــوری اسلامی افغانستان است که به مقصـــد تحقق اهداف سیاست خارجی و دفاع از حقوق و منافع مشروع و قانونی کشور در دولت خارجی تأسیس می گردد.

**نمایندۀ سیاسی دولت**

**مادۀ چهارم:**

کارکنان دیپلوماتیک به حیث نمایندگان

سياسي استازيو په توگــه، پــه نــورو هېوادونوکې د افغانستان د ملي حاکميت ممثل او د ملي گټو تأمينوونکي دي.
اداري، فني او خدماتي کارکوونکي له دې حکم څخه مستثني دي.

## دوه يم فصل

## د ديپلوماتيک او قونسلي کارکوونکو ټاکل او امتيازونه

**د ټاکلو شرايط**

**پنځمه ماده:**

هغه اشخاص د ديپلوماتيکو او قونسـلي کارکوونکو په توگه ټاکل کېدای شـي، چې د ملکي خدمتونو د کــارکوونکو د قانون پر مندرجو شرايطو سربېره د لاندې شرايطو لرونکي وي:

۱- يـــوازې د افغانســـتان تابعيـــت ولري.

۲- د هېواد دننــه او يــا لــه هېــواد څخــه بهــر لوړترلــوړه د حقوقــو او سياســي علومــو، اقتصــاد، ادبيــاتو او ژورنــاليزم پــوهنځی د ســـند لرل.

سياسی دولت، ممثل حاکميت ملــی و تأمين کنندۀ منافع ملــی افغانســتان در ديگر کشورها می باشند.
کارکنان اداری، فنی و خدماتی از ايــن حکم مستثنی می باشند.

## فصل دوم

## مقرری و امتيازات کارکنان ديپلوماتيک و قونسلی

**شرايط تقرر**

**مادۀ پنجم:**

اشخاصی به حيث کارکنان ديپلوماتيک و قونسلی مقرر شده می توانــد کــه علاوه بر شرايط مندرج قانون کارکنان خدمات ملکــی دارای شــرايط ذيــل باشند:

۱- تنها تابعيت افغانســتان را داشــته باشند.

۲- داشتن حداقل ســند فراغــت از پوهنځی حقوق و علوم سياسی، اقتصاد، ادبيــات و ژورنــاليزم از مؤسســات تحصيلات عالی داخل و يا خــارج از کشور.

۳- د بهرنيو چارو وزارت د ډيپلوماسۍ انسـتيتوت د زده کـړه ييـزې دورې تېرول.

۴- پر انګليسي او يا بله نړيوالـه ژبـه پوهېدل او د معاصرې تکنـالوژۍ پـه مهارتونو (کمپيوتر، انټرنټ، فکـس او نورو) پوهېدل.

## د کارکوونکو تبديلي

**شپږمه ماده:**

له هېواد څخه بهر ډيپلوماتيک او قونسلي کارکوونکي د باالفعل درې کلن خدمت له تر سرته رسولو وروسته، له موجودې دندې دې مرکز ته تبديل شي. د يـادې مودې تېرول په مرکز کې هـم الزامـي دي.

## حقونه او امتيازونه

**اوومه ماده:**

د ديپلوماتيکو او قونسلي کارکوونکو د حقونو او امتيازونو کچه، په هسـتوګن هېواد کې د بيو د سطحې له په پام کـې نيولو سره د بهرنيو چـارو وزارت پـه وړانديز او د ماليې وزارت په موافقه، د

۳- سـپری نمـودن دورۀ آموزشـی انستيتوت ديپلوماسـی وزارت امـور خارجه.

۴- دانستن انگليسی يا يکی از لسـان های بين المللی و مهارت های تکنالوژی معاصر (کمپيوتر، انترنـت، فکـس و غيره).

## تبديلی کارکنان

**مادۀ ششم:**

کارکنان ديپلوماتيک و قونسلی بعد از سپری نمودن مدت سه سـال خـدمت باالفعل در خارج از کشور از وظيفـۀ موجود به مرکز تبديل گردد. سـپری نمودن مدت متذکره در مرکز نيز الزامی می باشد.

## حقوق و امتيازات

**مادۀ هفتم:**

ميزان حقـوق و امتيـازات کارکنـان ديپلوماتيک و قونسلی با درنظر داشت سطح قيم کشور مقيم به پيشنهاد وزارت امور خارجه و موافقۀ وزارت ماليـه از طرف شورای وزيران تصويب می گردد.

وزيرانو شورې له خوا تصويبېږي. د ديپلوماتيکو او قونسلي کارکوونکو نور حقونه او امتيازونه (نقدي مکافات، ستاينليک، تقديرنامه، د تقاعد يا مړينې په وخت کې مالي مرسته، له مياشتې معاش څخه د تقاعد د سهمېې وضع کول او د تقاعد حقونه) د کار قانون، د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون او په کار پورې د اړوندو مقررو د مندرجو حکمونو له مخې، د هغوی د بستونو په پام کې نيولو سره د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون په (۴) ګڼه ضميمه کې له درج شوو معاشونو څخه د ورکړې وړ دي.

## درېيم فصل

## وروستي حکمونه

د موجودو کارکوونکو دکار دوام

**اتمه ماده:**

د دې قانون په نافذېدو سره د دوه ګونې او درې ګوني تابعيت لرونکو اشخاصو ديپلوماتيک اوقونسلي دندې ختمېږي.

ساير حقوق و امتيازات (مکافات نقدی، تحسين نامه، تقديرنامه، مساعدت مالی حين تقاعد يا فوت، وضع سهميهٔ تقاعد، از معاش ماهوار و حقوق تقاعد کارکنان ديپلوماتيک و قونسلی) مطابق احکام مندرج قانون کار، قانون کارکنان خدمات ملکی و مقرره های مرتبط به کار با درنظر داشت بست آنها از معاشات مندرج ضميمهٔ شماره (۴) قانون کارکنان خدمات ملکی قابل پرداخت می باشد.

## فصل سوم

## احکام نهايی

ادامه کارکنان موجود

**مادهٔ هشتم:**

با انفاذ اين قانون اشخاص دارای تابعيت دومی و سومی وظايف ديپلوماتيک و قونسلی شان ختم می گردد.

**د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ د انستیتوت د اساسنامې د انفاذ په هکله، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د وزیرانو شورې مصوبه**

ګڼه: (۵۱)

نېټه: ۱۳۹۱/۱۲/۲۱

د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ د انستیتوت اساسنامه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د وزیرانو شورې د ۱۳۹۱/۱۲/۲۱ نېټې په غونډه کې په (۴) فصلونو او (۳۵) مادو کې تصویب شوې، منظوروم.

دغه مصوبه له اساسنامې سره یو ځای د خپرېدو له نېټې څخه په رسمي جریده کې نافذېږي.

**حامد کرزی**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت رئیس**

**مصوبهٔ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان درمورد انفاذ اساسنامهٔ انستیتوت تکنالوژی معلوماتی ومخابراتی**

شماره :(۵۱)

تاریخ : ۱۳۹۱/۱۲/۲۱

اساسنامهٔ انستیتوت تکنالوژی معلوماتی و مخابراتی راکه درجلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۱/۱۲/۲۱ شورای وزیران جمهوری اسلامی افغانستان به داخل(۴) فصل و(۳۵) ماده تصویب گردیده، منظور می دارم.

این مصوبه همراه با اساسنامه از تاریخ نشردر جریدهٔ رسمی نافذ می گردد.

**حامد کرزی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## اساسنامۀ انستیتوت تکنالوژی معلوماتی و مخابراتی

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | منظور وضع | ٦ |
| مادۀ دوم: | هدف | ٦ |
| مادۀ سوم: | نام اختصاری | ۷ |
| مادۀ چهارم: | فعالیت انستیتوت | ۷ |
| مادۀ پنجم: | وابستگی انستیتوت | ۷ |
| مادۀ ششم: | تطبیق پروگرام تحصیلی | ۸ |


### فصل دوم

### تشکیل، وظایف و صلاحیت های انستیتوت


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ هفتم: | ساختار تشکیلاتی | ۸ |
| مادۀ هشتم: | وظایف انستیتوت | ۸ |
| مادۀ نهم: | شورای عالی | ۱۱ |
| مادۀ دهم: | وظایف و صلاحیت های شورای عالی | ۱۲ |
| ماده یازدهم: | جلسات شورای عالی | ۱۳ |
| مادۀ دوازدهم: | شورای علمی | ۱۳ |
| مادۀ سیزدهم: | وظایف و صلاحیت های شورای علمی | ۱۴ |
| مادۀ چهاردهم: | جلسات شورای علمی | ۱۵ |

مادۀ پانزدهم: امور ذاتی........................................۱۶
مادۀ شانزدهم: رئیس انستیتوت.................................۱۶
مادۀ هفدهم: شرایط تعیین رئیس انستیتوت......................۱۷
مادۀ هجدهم: وظایف و صلاحیت های رئیس انستیتوت..........۱۷
مادۀ نزدهم: وظایف و صلاحیت های معاون علمی..............۱۹
مادۀ بیستم: وظایف و صلاحیت های معاون اداری..............۲۰
مادۀ بیست ویکم: دیپارتمنت های انستیتوت...........................۲۱
مادۀ بیست ودوم: آمر دیپارتمنت...................................۲۱
مادۀ بیست وسوم: وظایف آمر دیپارتمنت...............................۲۲
مادۀ بیست وچهارم: بست اکادمیک....................................۲۳
مادۀ بیست وپنجم: وظایف عضو بست اکادمیک..........................۲۳
مادۀ بیست وششم: جلسات دیپارتمنت..................................۲۴

## فصل سوم

## امور محصلان

مادۀ بیست وهفتم: محصل..........................................۲۶
مادۀ بیست وهشتم: اعطای دیپلوم....................................۲۶
مادۀ بیست ونهم: حقوق محصل.......................................۲۶
مادۀ سی ام : اتباع خارجی.......................................۲۷

## فصل چهارم

## احکام متفرقه


مادهٔ سی ویکم: کورس های آموزشی.................................۲۷

مادهٔ سی ودوم: مساعدت مالی.......................................۲۸

مادهٔ سی وسوم: ارزیابی انستیتوت..................................۲۸

مادهٔ سی وچهارم: نشریه و مهر ..................................................۲۹

مادهٔ سی و پنجم: انفاذ............................................۲۹

## د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ دانستيتوت اساسنامه

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضع کېدو منظور**

**لومړۍ ماده:**

دغه اساسنامه د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ د انستيتوت د اړوندو چارو د تنظيم په منظور وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

ددې اساسنامې موخې عبارت دي له:

۱- د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ په برخو(رشتو) کې په ملي او بين المللي معيارونو سره د تخصصي کادرونو روزل.

۲- د محصلانو د فکري استعدادونو او عملي مهارتونو وده او پرمختيا.

۳- په نظري او عملي توګه د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ د علومو د زده کړې د زمينې برابرول.

۴- په اړوندو ډګرونو کې د کارنده

## اساسنامۀ انستيتوت تکنالوژی معلوماتی و مخابراتی

## فصل اول

## احکام عمومی

**منظوروضع**

**مادۀ اول:**

اين اساسنامه به منظور تنظيم امور مربوط به انستيتوت تکنالوژی معلوماتی ومخابراتی وضع گرديده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم :**

اهداف اين اساسنامه عبارت اند از:

۱- تربيۀ کادر های تخصصی با معيار های ملی وبين المللی در رشته های تکنالوژی معلوماتی ومخابراتی.

۲- رشد و انکشاف استعداد های فکری و مهارت های عملی محصلان.

۳ - مساعد ساختن زمينۀ فراگيری علوم تکنالوژی معلوماتی و مخابراتی طور نظری و عملی .

۴- انتقال دانش و تکنالوژی معاصر

(فعال) ګډون لپاره د معاصرې پوهې او تکنالوژۍ لېږدول.

**لنډ نوم**

**درېیمه ماده:**

د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ انستیتوت پدې اساسنامه کې د انستیتوت په نوم یادېږي.

**د انستیتوت فعالیت**

**څلورمه ماده:**

انستیتوت د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت په چوکاټ کې فعالیت کوي او د لېسانس اودهغه څخه په لوړه درجه مسلکي کادرونه د لوړو زده کړو وزارت د منل شوو معیارونو مطابق، روزي.

**د انستیتوت تړاو**

**پنځمه ماده:**

د انستیتوت ، مالي او اداري چارې د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت لخوا او علمي–اکاډمیکي چارې یې د لوړو زده کړو وزارت لخوا پر مخ بیول کېږي.

جهت مشارکت فعال در عرصه های مربوط.

**نام اختصاری**

**مادهٔ سوم:**

انستیتوت تکنالوژی معلوماتی و مخابراتی در این اساسنامه به نام انستیتوت یاد می گردد.

**فعالیت انستیتوت**

**مادهٔ چهارم :**

انستیتوت در چوکات وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی فعالیت نموده و کادرهای مسلکی به درجهٔ لسانس و بالاتر آن را طبق معیار های پذیرفته شدهٔ وزارت تحصیلات عالی تربیه می نماید.

**وابستگی انستیتوت**

**مادهٔ پنجم:**

امور مالی و اداری انستیتوت ، از طرف وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی وامور علمی – اکادمیک آن از طرف وزارت تحصیلات عالی پیش برده می شود .

**د تحصيلي پروګرام تطبيق**

**شپږمه ماده:**

انستيتوت د لېسانس او له هغه څخه لوړ تحصيلي پروګرام، په اکاډميکو معيارونو سره د لوړو زده کړو د مؤسسو د قانون د حکمونو مطابق تطبيقوي.

## دوه يم فصل

## د انستيتوت تشکيل، دندې او واکونه

**تشکيلاتي جوړښت**

**اوومه ماده:**

انســتيتوت د عــالي شــوري، علمــي شوري،ديپارتمنتونو، دخپرونو د ادارې، کتابتون او معلوماتي تکنالوژۍ د مرکــز لرونکی دی.

**د انستيتوت دندې**

**اتمه ماده:**

انستيتوت د لاندې دندو لرونکی دی:

۱–د لــوړو زده کــړو د مؤسســو د قانون،اکاډميکو اصولو اومعيارونو،د ملي اواسلامي ارزښتونو او د ټولنې د ودې او

**تطبيق پروگرام تحصيلی**

**مادهٔ ششم:**

انستيتوت پروگرام تحصــيلی لســانس وبالاترآن را بامعيار های اکادميک مطابق احکام قانون مؤسسات تحصيلات عالی تطبيق می نمايد.

## فصل دوم

## تشکيل، وظايف وصلاحيت های انستيتوت

**ساختار تشکيلاتی**

**مادهٔ هفتم:**

انستيتوت دارای شورای عالی ، شورای علمی ، ديپارتمنت ها، ادارهٔ نشــرات، کتابخانه و مرکز تکنالوژی معلوماتی می باشد.

**وظايف انستيتوت**

**مادهٔ هشتم :**

انستيتوت دارای وظايف ذيل می باشد:

۱– تدوير پروگرام های آموزشــی در عرصهٔ تکنالوژی معلوماتی و مخابراتی با نظر داشــت قــانون مــــؤسسات

پرمختيا د اړتياوو له په پام کــې نيولــو سره،د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ په ډګر کې د زده کړه ييزو پروګرامونـــو جوړول.

۲–د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ په برخو کې په علمي تيـــوريکې پـــوهې او علمي مهارتونو سره د ليسانس او له هغۀ څخه د لوړ مسلکي–تخصصي کادر چمتو کول او پدې برخه کې د اړوندو استاذانو د تحصيلي او علمي کچې لوړول.

۳- د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ په برخو کې د سالمې او معياري زده کړې او تدريس د زمينې برابرول او د علمي– اکاډميکو فعاليتونو پرمختيول.

۴–په لوړو ا خلاقو او له کار سره د مينې په درلودو د محصلانو روزل.

۵–له علمي– اکاډميکو کورنيو او بهرنيو مماثلو تحصيلي مؤسسو سره د اړيکـــو تأمينول.

٦–په څېړنيزو،زده کړه ييزو، د درســي کتابونو د تأليف او ژباړنې، د تطبيقاتو د لارښوونې،د مأخذ د کتابونو، د علمي

تحصيلات عالی، اصول و معيار هـــای اکادميـــــک، ارزش هـــــای ملـــــی و اسلامی و نيازمندی رشد و انکشـــاف جامعه .

۲– آماده ساختن کـــادر مســـلکی ــ تخصصی لسانس وبالاتر از آن بادانش علمی تيوريک ومهارت های علمی در رشته های مخابرات وتکنالوژی معلوماتی و ارتقای سطح تحصيلی وعلمی استادان مربوط در زمينه .

۳– فراهم نمودن زمينـــۀ آمـــوزش و تدريس سالم ومعياری و پيشبرد فعاليت های علمی – اکادميک در رشته هـــای تکنالوژی معلوماتی و مخابراتی .

۴– تربيۀ محصـــلان بـــااخلاق عـــالی و علاقمندی به کار .

۵– تأمين روابط با مؤسسات تحصيلی مماثل علمـــی – اکادميـــک داخلـــی وخارجی .

٦– تشويق وپشتيبانی همـــه جانبـــه از فعاليت های ابتکاری در زمينه های تحقيقـــــی، آموزشـــــی، تـــــأليف و

څېړنو اجراء، خپرونو او د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ په ډګرونو کې د اړوندو اکاډميکو بستونو د غړو د علمي- مسلکي کچې د لوړولو په زمينو کې د(نوښتي) ابتکاري فعاليتونو هڅول او هر اړخيز ملاتړ.

۷-د محصلانو، استاذانو او د انستيتوت د نورو منسوبينو د علمي-مسلکي سويې د لوړېدو لپاره د علمي کنفرانسونو، سمپوزيمونو، ورکشاپونو او نورو علمي محفلونو جوړول.

۸-د انستيتوت د ودې او پرمختيا د پلانونو او برنامو برابرول او ترتيبول او د هغو تطبيقول.

۹-په انستيتوت کې د روغتيا ساتنې، د کار د سالم او بې خطره چاپېريال، تحصيلي او علمي فعاليت د شرايطو تأمينول.

۱۰-په انستيتوت کې له سرغړونو څخه د مخنيوي په منظور، د انضباطي تدبيرونو او اقداماتو نيول.

۱۱- د هر سمستر په پای کې د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت ته دمالي او

ترجمهٔ کتب درسی، رهنمایی تطبیقات، کتب مأخذ، اجرای تحقیقات علمی، انتشارات وارتقای سطح آمادگی علمی _ مسلکی اعضای بست های اکادمیک مربوط در عرصهٔ تکنالوژی معلوماتی ومخابراتی .

۷- برگزاری کنفرانس های علمی، سمپوزیم ها،ورکشاپ ها و سایر محافل علمی جهت ارتقای سویهٔ علمی – مسلکی محصلان، استادان وسایر منسوبین انستیتوت.

۸- تهیه و ترتیب پلان ها و برنامه های رشد و انکشاف انستیتوت و تطبیق آن.

۹- تأمین شرایط حفظ الصحه، محیط سالم و بی خطر کار، تحصیل و فعالیت علمی در انستیتوت.

۱۰- اتخاذ تدابیر و اقدامات انضباطی به منظور جلوگیری از تخلفات در انستیتوت .

۱۱- ارایهٔ گزارش اجراآت امورمالی واداری به وزارت مخابرات و تکنالوژی

اداري چارو د رپوټ وړاندې کول او د لوړو زده کړو وزارت ته د علمي- اکاډميکو چارو د فعاليت د رپوټ وړاندې کول.

عالي شوري

نهمه ماده:

د انستيتوت د چارو د رهبرۍ په منظور،د انستيتوت عالي شوري په لاندې ترکيب سره جوړېږي:

۱-د لوړو زده کړو وزارت علمي معين د رئيس په توګه.

۲-د دوو کلونو لپاره د لوړو زده کړو وزارت په ټاکنه د اکاډميکو بستونو درې تنه غړي، د غړو په توګه.

۳-د دوو کلونو لپاره د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ وزارت په ټاکنه د معلوماتي او مخابراتي تکنالوژۍ په برخه کې دوه تنه مسلکي غړي، د غړو په توګه.

۴-د يوه کال لپاره د مخابراتي او معلوماتي تکنالوژۍ د خدمتونو د وړاندې کوونکو خصوصي کمپنيو د ګډې غونډې په ټاکنه د مخابراتي او معلوماتي تکنالوژۍ

معلوماتی وارایهٔ گزارش فعالیت امورعلمی - اکادمیک به وزارت تحصیلات عالی در پایان هر سمستر .

شورای عالی

مادهٔ نهم:

به منظور رهبری امور انستیتوت، شورای عالی انستیتوت به ترکیب ذیل ایجاد می گردد:

۱- معین علمی وزارت تحصیلات عالی به حیث رئیس.

۲ - سه نفراعضای بست های اکادمیک به انتخاب وزارت تحصیلات عالی برای دو سال به حیث اعضاء.

۳ - دو نفراعضای مسلکی رشته تکنالوژی معلوماتی و مخابراتی به انتخاب وزارت مخابرات وتکنالوژی معلوماتی برای دو سال به حیث اعضاء.

۴- یک نفر متخصص ورزیدهٔ سکتور خصوصی عرضه کنندهٔ خدمات مخابراتی و تکنالوژی معلوماتی به انتخاب جلسهٔ مشترک کمپنی های خصوصی عرضه

د خدمتونو د وړاندې کوونکي خصوصي سکتور یو تن پیاوړی متخصص،د غړي په توګه.

۵-د انستیتوت رئیس د غړي او منشي په توګه.

د عالي شورې دندې او واکونه

لسمه ماده:

عالي شوري د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱-د انستیتوت د لایحو او کړنلارو تصویبول.

۲-د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو له په پام کې نیولو سره د انستیتوت د علمي-اکاډمیکو فعالیتونو د پلان کتنه او ارزونه او په هکله یې تصمیم نیول.

۳-د انستیتوت د تحصیلي نصاب تأییدول او د منظورۍ لپاره ئي د لوړو زده کړو وزارت ته د هغهٔ وړاندې کول .

۴-د اړوندو دیپارتمنتونو د جوړولو، ادغام یا انحلال د وړاندیز تأیید ول او د منظورۍ لپاره ئي د لوړو زده کړو وزارت ته د هغهٔ

کنندهٔ خدمات مخابراتی وتکنالوژی معلوماتی برای یکسال به حیث عضو.

۵- رئیس انستیتوت به حیث عضو ومنشی.

وظایف وصلاحیت های شورای عالی

مادهٔ دهم:

شورای عالی دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد:

۱- تصویب لوایح و طرزالعمل های انستیتوت.

۲- مطالعه و ارزیابی پلان فعالیت های علمی- اکادمیک انستیتوت بانظرداشت معیار های وزارت تحصیلات عالی واتخاذ تصمیم در زمینه .

۳- تأیید نصاب تحصیلی انستیتوت و ارایهٔ آن غرض منظوری به وزارت تحصیلات عالی.

۴- تأیید پیشنهاد ایجاد ، ادغام یا انحلال دیپارتمنت های مربوطه وارایهٔ آن غرض منظوری به وزارت تحصیلات

وړاندې کول.

۵-د انستيتوت د علمي شورې د رپوټ ارزول.

٦-په انستيتوت کې د نوو شاملانو د جذب د پلان په هکله د تصميم نيول.

۷-د انستيتوت د علمي شورې د وړانديز تأييد ول چې د هغې په واک کې شامل نه وي.

۸-د انستيتوت د تدريسي او څېړنيزو چارو په اړه د اکاډميکو بستونو د غړو او محصلانو شکايتونو ته رسيدګي.

<u>د عالي شورې غونډې</u>

يوولسمه ماده:

(۱)په عادې توګه د عالي شورې غونډې په هر سمستر کې يو ځل او د اړتيا په صورت کې د انستيتوت د عالي شورې د رئيس په تصميم يا دانستيتوت د رئيس او يا د غړو د دوو ثلثو په وړانديز په فوق العاده توګه جوړېږي.

(۲)د عالي شورې د غونډو د جوړېدو ډول د جلا کړنلارې مطابق تنظيمېږي.

عالی.

۵- ارزيابی گزارش شورای علمی انستيتوت.

٦- اتخاذ تصميم درمورد پلان جذب جديدالشمولان در انستيتوت.

۷- تأييد پيشنهاد شورای علمی انستيتوت که شامل صلاحيت آن نباشد .

۸- رسيدگی به شکايات اعضای بست های اکادميک و محصلان در رابطه به امور تدريسی و تحقيقی انستيتوت.

<u>جلسات شورای عالی</u>

مادۀ يازدهم:

(۱) جلسات شورای عالی طور عادی در هر سمستر يکبار و در صورت ضرورت به اثرتصميم رئيس شورای عالی يا پيشنهاد رئيس انستيتوت ويا دو ثلث اعضاء طور فوق العاده داير می گردد.

(۲)طرزتدويرجلسات شورای عالی طبق طرزالعمل جداگانه تنظيم می گردد.

## علمي شوري

**دوولسمه ماده:**

**د انستيتوت د علمي- اکاډميکو فعاليتونو د ښه والي او سمون په منظور، علمي شوري په لاندې ترکيب سره جوړېږي:**

**۱- د انستيتوت رئيس،د رئيس په توګه.**

**۲- دانستيتوت مرستيال، د غړي په توګه.**

**۳-د ديپارتمنتونو آمران د غړو په توګه.**

**۴-د اړوند ديپارتمنت د تصميم پربنسټ له هر ديپارتمنت څخه د اکاډميکو بستونو د غړو له جملې څخه يو تن، د غړي په توګه.**

**۵-د استاذانو عمومي مدير(پدې شرط چې د اکاډميک بست غړی وي) د غړي په توګه.**

**۶-تدريسي عمومي مدير (پدې شرط چې د اکاډميک بست غړی وي) د غړي په توګه.**

## شورای علمی

**مادۀ دوازدهم:**

**به منظور بهبود و انسجام فعاليت های علمی – اکادميک انستيتوت، شورای علمی به ترکيب ذيل ايجاد می گردد:**

**۱- رئيس انستيتوت به حيث رئيس .**

**۲- معاون علمی انستيتوت بحيث عضو.**

**۳- آمرين ديپارتمنت ها بحيث اعضاء.**

**۴- يکنفر نماينده ازجملۀ اعضای بست های اکادميک ازهر ديپارتمنت به اساس تصميم ديپارتمنت مربوط بحيث عضو.**

**۵- مديرعمومی استادان (مشروط براينکه عضوبست اکادميک باشد)به حيث عضو .**

**۶- مديرعمومی تدريسی (مشروط براينکه عضوبست اکادميک باشد) به حيث عضو.**

**د علمي شوري دندې او واکونه**

**دیارلسمه ماده:**

علمي شوري د لاندې دندو او واکونو لرونکې ده:

۱-عالي شوري ته دانستیتوت د اکاډمیکو بستونو د غړو د تشکیل د تعدیل وړاندیز.

۲-د اړوندو درسي پلانونو او تحصیلي نصاب تأییدول او له تطبیق څخه یې څارنه.

۳-د لایحو او کړنلارو طرح کول او ترتیبول او عالي شوري ته ئي د تصویب لپاره د هغو وړاندې کول.

۴-عالي شوري ته د انستیتوت د اکاډمیکو بستونو د غړو د علمي رتبو د تثبیت او ترفیع وړاندیز.

۵-د قانون د حکمونو مطابق،عالي شوري ته د انستیتوت د اکاډمیکو بستونو د غړو د مقررېدو او انفکاک وړاندیز.

٦-د انستیتوت د تحصیلي بورسونو (سکالرشپ او فیلو شپ) د مستحقینو

**وظایف وصلاحیت های شورای علمی**

**مادهٔ سیزدهم:**

شورای علمی دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد:

۱- پیشنهاد تعدیل تشکیل اعضای بست های اکادمیک انستیتوت به شورای عالی.

۲- تأیید پلان های درسی ونصاب تحصیلی مربوط و نظارت از تطبیق آن .

۳- طرح وترتیب لوایح و طرزالعمل ها وارایهٔ آن جهت تصویب به شورای عالی.

۴- پیشنهاد تثبیت وترفیع رتب علمی اعضای بست های اکادمیک انستیتوت به شورای عالی .

۵- پیشنهاد تقرر وانفکاک اعضای بست های اکادمیک انستیتوت به شورای عالی طبق احکام قانون .

٦- تعیین مستحقین بورسهای تحصیلی (سکالرشپ و فیلوشپ )

تاکل.

۷-د هر سمستر په پای کې د ديپارتمنت د اکاډميکو فعاليتونو ارزول.

۸-د اړتيا په وخت کې د اختصاصي کميټو جوړول.

۹-د نورو هغو دندو سرته رسول چې د عالي شوري لخوا علمي شوري ته سپارل کيږي.

## د علمي شوري غونډې

**څوارلسمه ماده:**

(۱)د علمي شوري غونډې په هرو پنځلسو ورځو کې يو ځل او د اړتيا په صورت کې د انستيتوت د رئيس په غوښتنه يا د غړو د دوو ثلثو په وړانديز په فوق العاده توګه جوړيږي.

(۲)د علمي شوري د غونډو د جوړيدو ډول د جلا کړنلارې مطابق تنظيميږي.

## ذاتي چارې

**پنځلسمه ماده:**

د انستيتوت د اکاډميکو بستونو د غړو او اداري کارکوونکو مقرريدل، تبديلي، ترفيع، تقاعد او نورې ذاتي چارې د

انستيتوت .

۷-ارزيابی فعاليت های اکادميک ديپارتمنت در ختم هر سمستر .

۸- ايجاد کميته های اختصاصی عندالضرورت.

۹- انجام ساير وظايفی که از جانب شورای عالی به شورای علمی محول می گردد.

## جلسات شورای علمی

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) جلسات شورای علمی در هر پانزده روز يکبار و در صورت ضرورت به اثر تقاضای رئيس انستيتوت يا پيشنهاددوثلث اعضاءطورفوق العاده داير می گردد.

(۲)طرز تدويرجلسات شورای علمی طبق طرزالعمل جداگانه تنظيم می گردد.

## امورذاتی

**مادۀ پانزدهم:**

تقرر، تبدل، ترفيع، تقاعد و ساير امور ذاتی اعضای بست های اکادميک وکارکنان اداری انستيتوت طبق

اړوندو تقنيني سندونو مطابق،صورت مومي.

**د انستيتوت رئيس**

**شپاړسمه ماده:**

(۱)د انستيتوت په سرکې رئيس دی چې د قانون د حکمونو مطابق ټاکل کېږي.

(۲)د انستيتوت رئيس دوه مرستيالان لري چې د علمي،تحصيلي او اداري چارو مسئول دي او له خپلو اجراآتو څخه د انستيتوت عالي شوري او علمي شوري ته رپوټ ورکوي.

**د انستيتوت د رئيس د ټاکلو شرايط**

**اوولسمه ماده:**

هغه شخص د انستيتوت د رئيس په توګه ټاکل کېږي چې د لاندې شرايطو لرونکی وي:

۱-لږ تر لږه د ماسترۍ د تحصيلي سند لرونکی وي.

۲-لږ تر لږه د پوهندوی د علمي رتبې لرونکی وي.

۳-لږترلږه (۳۵) پنځه دېرش کلنی سن يې بشپړ کړی وي.

اسناد تقنينی مربوط صورت می گيرد.

**رئيس انستيتوت**

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) در رأس انستيتوت رئيس قرار دارد که مطابق احکام قانون تعيين می گردد.

(۲) رئيس انستيتوت دارای دومعاون می باشد که مسئول پيشبرد امور علمی ، تحصيلی واداری بوده واز اجراآت خود به شورای عالی وشورای علمی انستيتوت گزارش می دهد.

**شرايط تعيين رئيس انستيتوت**

**مادۀ هفدهم:**

شخصی به حيث رئيس انستيتوت تعيين می گردد که واجد شرايط ذيل باشد :

۱- حداقل دارای سند تحصيلی ماستری باشد.

۲- حد اقل دارای رتبۀ علمی پوهندوی باشد .

۳- حد اقل سن (۳۵) سی وپنج سالگی را تکميل نموده باشد .

۴–په يوهٔ معتبره بين المللی ژبه بشپړ تسلط ولري.

## د انستيتوت د رئيس دندې او واکونه

اتلسمه ماده:

د انستيتوت رئيس د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱–په انستيتوت پورې د اړوندو چارو رهبري کول.

۲–د علمي شورې د غونډو مشري (رياست).

۳–په دې اساسنامه کې د درج شوو حکمونو او د عالي شورې د تصميمونو له تطبيق څخه څارنه او کنترول.

۴–په انستيتوت کې د نظم او دسپلين تأمينول.

۵–د انستيتوت د تدريسي، څېړنيزې، خپرنيزې او اداري وضعې د ښه والي په منظور د لازمو تدبيرونو نيول.

٦–له انستيتوت څخه بهر په علمي–څېړنيزو کميټو او محفلونو کې د انستيتوت د استازې ټاکل او معرفي کول.

۴– تسلط کامل به يکی از زبان های معتبر بين المللی داشته باشد.

## وظايف وصلاحيت های رئيس انستيتوت

مادهٔ هجد هم:

رئيس انستيتوت دارای وظايف و صلاحيت های ذيل می باشد:

۱–رهبری امورمربوط به انستيتوت.

۲– رياست جلسات شورای علمی .

۳– نظارت و کنترول از تطبيق احکام مندرج اين اساسنامه و تصاميم شورای عالی.

۴–تأمين نظم و دسپلين در انستيتوت.

۵– اتخاذ تدابير لازم به منظور بهبود وضع تدريسی،تحقيقی، نشراتی و اداری انستيتوت.

٦– تعيين ومعرفی نمايندهٔ انستيتوت در کميته ها و محافل علمی– تحقيقاتی خارج انستيتوت.

۷-د درسي، علمي، فرهنګي او ټولنيزو خدمتونو د پلانونو او پروګرامونو له اجراء څخه څارنه.

۸-د هېواد په دننه او بهر کې له نورو مماثلو مؤسسو سره د انستيتوت د علمي-اکادميکو اړيکيو تأمينول.

۹-د انستيتوت د ديپارتمنتونو او څانګو تر منځ د هم غږۍ او ګډو هڅوتأمينول.

۱۰-عالي شوري، د مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ او لوړو زده کړو وزارتونو ته د انستيتوت له اجراآتو څخه د رپوټ وړاندې کول.

۱۱-د نورو هغو دندو سرته رسول چې د عالي شوري لخوا هغهٔ ته سپارل کېږي.

**<u>د علمي مرستيال دندې او واکونه</u>**

**نولسمه ماده:**

د انستيتوت علمي مرستيال د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱-په علمي-اکاډميکو چارو کې د انستيتوت له رئيس سره همکاري او د هغهٔ

۷- مراقبت از اجرای پلان ها و پروگرام های درسی، علمی، فرهنگی و خدمات اجتماعی.

۸- تأمین روابط علمی - اکادمیک انستیتوت با سایرمؤسسات مماثل در داخل و خارج کشور.

۹ - تأمین هم آهنگی و تشریک مساعی میان دیپارتمنت ها و شعبات انستیتوت .

۱۰- ارایهٔ گزارش از اجراآت انستیتوت به شورای عالی و وزارت های مخابرات و تکنالوژی معلوماتی و تحصیلات عالی .

۱۱ - انجام سایر وظایفی که از طرف شورای عالی به وی محول می گردد.

**<u>وظایف وصلاحیت های معاون علمی</u>**

**مادهٔ نزدهم :**

معاون علمی انستیتوت دارای وظایف وصلاحیت های ذیل می باشد :

۱- همکاری با رئیس انستیتوت در امورعلمی- اکادمیک و

په غیاب کې د اړوندو مکلفیتونو پـــرمخ بیول.

۲–د انستیتوت د علمي–څېړنیزو چارو رهبري کول.

۳–د انستیتوت له خپرنیزو چارو څخـــه څارنه.

۴–د انستیتوت رئیس ته د علمي مشورو وړاندې کول.

۵–د اکاډمیکو بستونو د غړو په واسطه د تحصیلي نصاب له تطبیق څخه څارنه.

٦–د انستیتوت رئیس ته له خپلو اجراآتو څخه د رپوټ وړاندې کول.

۷–د نورو هغو دندو سرته رسول چې په علمي څېړنیزو چارو کې د انستیتوت د رئیس لخوا هغهٔ ته سپارل کېږي.

**د اداري مرســـــتیال دنـــــدې او واکونه**

**شلمه ماده:**

د انستیتوت اداري مرستیال د لاندې دندو او واکونو لرونکی دی:

۱–په مـــالي او اداري چـــارو کـــې د انستیتوت له رئیس سره همکاري.

پیشبرد مکلفیت های مربوط درغیـــاب وی .

۲– رهبری امـــورعلمی – تحقیقـــاتی انستیتوت.

۳– نظـــــارت از امــــور نشــــــراتی انستیتوت.

۴–ارایهٔ مشوره های علمی به رئـــیس انستیتوت.

۵– نظارت از تطبیق نصاب تحصـــیلی توسط اعضای بست های اکادمیک .

٦– ارایهٔ گزارش از اجراآت خویش به رئیس انستیتوت.

۷–انجـــام ســـایر وظـــایفی کـــه در امور علمـــی – تحقیقـــاتی از طـــرف رئیس انستیتوت به وی محول می گردد.

**وظایف وصلاحیت هـــای معـــاون اداری**

**مادهٔ بیستم :**

معاون اداری انستیتوت دارای وظـــایف وصلاحیت های ذیل می باشد:

۱– همکاری با رئیس انستیتوت در امور مالی و اداری.

۲-د انستيتوت د ليليې د چارو، ساتنې او څارنې، ترانسپورت د کتابتون او(IT)د مديريت له چارو څخه څارنه.

۳-د انستيتوت د کلني عادي او پرمختيايي بودجې طرح کول او ترتيبول.

۴-د انستيتوت د تدارکاتي پلان برابرول او ترتيبول.

۵-د محصلانو د عملي کارونو د اجراء لپاره د لازمو اسانتياوو او امکاناتو برابرول.

٦-له اړوندو اجراآتو څخه د ربعوار رپوټ برابرول او ترتيبول او د انستيتوت رئيس ته د هغهٔ وړاندې کول.

۷-د نورو هغو دندو سرته رسول چې په اداري چارو کې د انستيتوت د رئيس لخوا هغهٔ ته سپارل کېږي.

**د انستيتوت ديپارتمنتونه**

**يوويشتمه ماده:**

انستيتوت د ديپارتمنتونو لرونکی دی چې د علمي او تحصيلي واحد په توګه فعاليت کوي.

۲- نظارت از امور ليليه، حفظ و مراقبت، ترانسپورت، امور کتابخانه ومديريت (IT) انستيتوت.

۳- طرح وترتيب بودجهٔ عادی و انکشافی سالانهٔ انستيتوت.

۴- تهيه وترتيب پلان تدارکاتی انستيتوت .

۵-فراهم نمودن تسهيلات وامکانات لازم برای اجرای کارهای عملی محصلان.

٦- تهيه و ترتيب گزارش ربعوار از اجراآت مربوط و ارايهٔ آن به رئيس انستيتوت.

۷- انجام ساير وظايفی که در اموراداری ازطرف رئيس انستيتوت به وی محول می گردد.

**ديپارتمنت های انستيتوت**

**مادهٔ بيست ويکم:**

انستيتوت دارای ديپارتمنت ها می باشد که منحيث واحد علمی وتحصيلی فعاليت می نمايد.

## د دیپارتمنت آمر

**دوه ویشتمه ماده:**

د هر دیپارتمنت په سر کې آمر دی چې د(پوهاند،پوهنوال یا پوهندوی) د علمي رتبې لرونکو استاذانو له منځ څخه د دیپارتمنت د مجلس په واسطه غوره او د علمي شورې له تأیید او د لوړو زده کړو وزارت له منظورۍ وروسته ټاکل کېږي. په هغهٔ صورت کې چې استاذ موجود نه وي، د استاذ همکار (اسیستانت) (پوهنمل، پوهنیار یا پوهیالی) هم په ترتیب سره د دیپارتمنت د آمر په توګه ټاکل کېدای شي.

## دیپارتمنت د آمر دندې

**درویشتمه ماده:**

د دیپارتمنت آمر د لاندې دندو لرونکی دی:

۱–د دیپارتمنت د غونډو څخه مشري (ریاست).

۲–د دیپارتمنت د مجلس له لارې د اکاډمیکو بستونو غړو ته د مضامینو وېشل.

## آمر دیپارتمنت

**مادهٔ بیست ودوم :**

در رأس هر دیپارتمنت آمر قرار داردکه از میان استادان دارای رتبهٔ علمی (پوهاند، پوهنوال یاپوهندوی) توسط مجلس دیپارتمنت انتخاب و بعداز تأیید شورای علمی ومنظوری وزارت تحصیلات عالی تعیین می گردد. درصورتی که استاد موجود نباشد، همکار استاد(اسیستانت) (پوهنمل، پوهنیار یا پوهیالی ) نیزبالترتیب به حیث آمر دیپارتمنت تعیین شده می تواند.

## وظایف آمر دیپارتمنت

**مادهٔ بیست وسوم :**

آمر دیپارتمنت دارای وظایف ذیل می باشد:

۱– ریاست از جلسات دیپارتمنت .

۲– توزیع مضامین به اعضای بست های اکادمیک از طریق مجلس دیپارتمنت .

۳- په دیپارتمنت پورې د اړوند تحصیلي نصاب، درسي مفرداتو او نظري او عملي درسونو له تطبیق څخه څارنه.

۴-د دیپارتمنت د اکاډمیکو بستونو د غړو د فعالیتونو ارزول.

۵-د دیپارتمنت د اکاډمیکو بستونو د غړو د علمي ترفیع ګانو څېړل او علمي شورې ته د هغو وړاندیز.

٦-د انستیتوت علمي مرستیال یا علمي شورې ته له احوالو سره سم د دیپارتمنت له اجراآتو څخه د رپوټ وړاندې کول.

۷-د نورو هغو دندو سرته رسول چې د انستیتوت د رئیس یا علمي مرستیال لخوا هغۀ ته سپارل کېږي.

<u>اکاډمیک بست</u>

**څلېریشتمه ماده:**

د انستیتوت د اکاډمیک بست غړی هغه شخص دی چې د لوړو زده کړو د مؤسسو په قانون کې د درج شوې علمي رتبې لرونکی وي او د انستیتوت په یوه له دیپارتمنتونو کې په تدریس او څېړنه بوخت وي.

۳- نظارت از تطبیق نصاب تحصیلی، مفردات درسی و دروس نظری و عملی مربوط به دیپارتمنت.

۴- ارزیابی فعالیت های اعضای بست های اکادمیک دیپارتمنت .

۵- بررسی ترفیعات علمی اعضای بست های اکادمیک دیپارتمنت و پیشنهاد آن به شورای علمی .

٦- ارایۀ گزارش از اجراآت دیپارتمنت حسب احوا ل به معاون علمی انستیتوت یا شورای علمی.

۷ – انجام سایر وظایفی که ازطرف رئیس انستیتوت یا معاون علمی به وی محول می گردد.

<u>بست اکادمیک</u>

**مادۀ بیست وچهارم :**

عضو بست اکادمیک انستیتوت شخصی است که حایز رتبۀ علمی مندرج قانون مؤسسات تحصیلات عالی بوده ودریکی از دیپارتمنت های انستیتوت مصروف تدریس و تحقیق باشد .

## د اکاډمیک بست د غړي دندې

**پنځه ویشتمه ماده:**

د اکاډمیک بست غړی د لاندې دندو لرونکی دی:

۱-په نظري او عملی توګه د څانګې (رشتې) مطابق د مضامینو تدریسول.

۲-د اړوند مضمون لپاره د درسي موادو برابرول.

۳-د محصلانو ددرسي ستونزو حلول.

۴-د اړوند د ډیپارتمنت د اکاډمیکو بستونو له غړو سره همکاري.

۵-په علمي کمیټو، کنفرانسونو او نورو محفلونوکې کارنده ګډون.

٦-د اکاډمیکو بستونو د غړو د علمي آثارو په هکله د نظر څرګندول.

۷-د نورو هغو دندو سرته رسول چې د ډیپارتمنت د آمر لخوا هغهٔ ته سپارل کېږي.

## د ډیپارتمنت غونډې

**شپږویشتمه ماده:**

(۱)دډیپارتمنت غونډې په لاندې مواردو کې جوړېږي:

## وظایف عضوبست اکادمیک

**مادهٔ بیست وپنجم :**

عضو بست اکادمیک دارای وظایف ذیل می باشد:

۱- تدریس مضامین مطابق رشته طور نظری و عملی.

۲- تهیهٔ مواد درسی برای مضمون مربوط.

۳- حل مشکلات درسی محصلان.

۴- همکاری با اعضای بست های اکادمیک دیپارتمنت مربوط.

۵- اشتراک فعال در کمیته ها، کنفرانس ها و سایر محافل علمی.

٦- ابراز نظر در مورد آثار علمی اعضای بست های اکادمیک .

۷- انجام سایر وظایفی که از طرف آمر دیپارتمنت به وی محول می گردد.

## جلسات دیپارتمنت

**مادهٔ بیست وششم :**

(۱) جلسات دیپارتمنت در موارد ذیل دایر می گردد:

۱-د دیپارتمنت د اکاډمیکو بستونو د غړو د تدریسي فعالیتونو ارزول.

۲-د تحصیلي نصاب د کیفیت د ښه والي او لوړولو په هکله د تصمیمونو یا لارښودونو نیول.

۳-د دیپارتمنت د درسي او څېړنیزو کمیو ارزول او د هغو د حل د لارو وړاندې کول.

۴-د دیپارتمنت د تحصیلي نصاب،لکچر نوټونو،درسي او ممدو درسي کتابونو څېړل.

۵-له علمي او تکنالوژیکو پرمختیاوو سره د دیپارتمنت د اکاډمیکو فعالیتونو تنظیمول او د دیپارتمنت د کاري کیفیت لوړول.

٦-د علمي څېړنو د اجراء لپاره د دیپارتمنت د اړتیا وړ درسي یا ممدو درسي کتابونو، د تألیفولو یا ژباړلو په باره کې د اکاډمیکو بستونو د غړو د توظیف په هکله د تصمیم نیول.

۷-د اکاډمیکو بستونو د غړو د علمي- اکاډمیکو فعالیتونو او سلوک د ډول ارزول.

۱- ارزیابی فعالیت های تدریسی اعضای بست های اکادمیک دیپارتمنت .

۲- اتخاذ تصامیم یا رهنمود ها در مورد بهبود و ارتقای کیفیت نصاب تحصیلی.

۳- ارزیابی کمبودی های درسی و تحقیقی دیپارتمنت و ارایهٔ راه حل آن.

۴- بررسی نصاب تحصیلی، لکچر نوت ها و کتب درسی وممد درسی دیپارتمنت.

۵- تنظیم نمودن فعالیت های اکادمیک دیپارتمنت با انکشافات علمی و تکنالوژیک و ارتقای کیفیت کاری دیپارتمنت.

٦- اتخاذ تصمیم در مورد توظیف اعضای بست های اکادمیک در بارهٔ تألیف یا ترجمهٔ کتب درسی یا ممد درسی مورد نیاز دیپارتمنت برای اجرای تحقیقات علمی .

۷- ارزیابی فعالیت علمی - اکادمیک وطرزسلوک اعضای بست های اکادمیک.

۸–د استاذانو لپاره د همکار استاذ (اسيستانت) د ټاکلو په هکله د تصميم نيول.

۹–د محصلانو د درسي ستونزو په هکله د تصميم نيول.

۱۰–د علمي کنفرانسونو او سيمينارونو د ارزونې لپاره د هيئت د ټاکلو وړانديز.

۱۱–بورسيو، سيمينارونو، ورکشاپونو او سمپوزيمونو ته د اکاډميکو بستونو د غړو د معرفی په هکله د تصميم نيول او د هغوی د رپوټ اورېدل.

۱۲–د نورو هغو دندو سرته رسول چې د ديپارټمنت د مجلس لخوا سپارل کېږي.

(۲)د ديپارټمنت د غونډو د جوړېدو ډول د جلا کړنلارې مطابق تنظيمېږي.

## درېيم فصل

## د محصلانو چارې

**محصل**

**اووه ويشتمه ماده:**

(۱)د انستيتوت محصل هغه شخص دی چې د لېسانس يا له هغهٔ څخه په لوړه سويه د پوهې (زده کړې) د ترلاسه کولو

۸– اتخاذ تصميم درمورد تعيين همکاراستاد (اسيستانت) برای استادان.

۹– اتخاذ تصميم در مورد مشکلات درسی محصلان.

۱۰– پيشنهاد تعيين هيئت جهت ارزيابی کنفرانس ها و سيمينار های علمی .

۱۱– اتخاذ تصميم در مورد معرفی اعضای بست های اکادميک در بورسيه ها، سيمينار ها، ورکشاپ ها و سمپوزيم ها واستماع گزارش آنها.

۱۲ – انجام ساير وظايفی که از طرف مجلس ديپارتمنت محول می گردد.

(۲)طرز تدوير جلسات ديپارتمنت طبق طرزالعمل جداگانه تنظيم می گردد.

## فصل سوم

## امور محصلان

**محصل**

**مادهٔ بيست وهفتم:**

(۱) محصل انستيتوت شخصی است که جهت کسب دانش به سويهٔ لسانس يا بالاتر ازآن پروگرام

لپاره تاکلی پروګرام د لوړو زده کــړو وزارت د مقرراتــو او لایحــو مطــابق تعقیبوي.

(۲)هغه شخص د انستیتوت د محصل په توګه منل کېږي چې د کانکور د ازموینې له تېرولو وروسته د لوړو زده کړو وزارت له لارې معرفي کېږي.

## د ډیپلوم ورکول

**اته ویشتمه ماده:**

د هرې تحصیلي دورې په پــای کــې د انستیتوت فارغانو ته د لوړو زده کــړو وزارت لخوا ډیپلوم ورکول کېږي.

## د محصل حقوق

**نهه ویشتمه ماده:**

د محصل حقوق،امتیازونه، وجایب او د انفکاک چارې، د لوړو زده کړو وزارت د لایحو او کړنلارو تابع دي.

## بهرني اتباع

**دېرشمه ماده:**

(۱)بهرني اتباع د لــوړو زده کــړو د مؤسسو د قانون او د نورو نافذو قوانینو د حکمونو مطابق په انستیتوت کې تحصیل

معینــه را مطــابق مقــررات ولــوایح وزارت تحصیلات عالی تعقیــب مــی نماید.

(۲) شخصی به حیث محصل انستیتوت پذیرفته می شود که بعد از سپری نمودن امتحــان کــانکور از طریــق وزارت تحصیلات عالی معرفی می گردد.

## اعطای دیپلوم

**مادهٔ بیست وهشتم :**

درختم هر دورهٔ تحصیلی برای فارغان انستیتوت ازطرف وزارت تحصــیلات عالی دیپلوم اعطاءمی گردد.

## حقوق محصل

**مادهٔ بیست ونهم :**

حقوق، امتیــازات ، وجایــب وامــور انفکاک محصل تابع لوایح وطرزالعمل های وزارت تحصیلات عالی می باشد.

## اتباع خارجی

**مادهٔ سی ام :**

(۱) اتباع خارجی طبق احکام قــانون مؤسسات تحصیلات عــالی و ســایر قوانین نافذ در انستیتوت تحصیل نموده

کولای شي.

(۲)په انستیتوت کې د تحصیل په منظور د بهرنیو اتباعو دمنلو شرایط او څرنگوالی د هغې جلا کړنلارې مطابق چې د عالي شورې په تصویب او د لوړو زده کړو وزارت په تأیید رسیږي، تنظیمیږي.

## څلورم فصل

## متفرقه حکمونه

**زده کړه ییز کورسونه**

**یودیرشمه ماده:**

انستیتوت کولای شي له دولتي ادارو، نا دولتي مؤسسو او خصوصي سکتور سره په تفاهم کې پرځانگړو تحصیلي فعالیتونو برسیره د ضرورت او مسلکي اړتیاوو له مخې، د ظرفیت د لوړولو ، زده کړه ییز کورسونه د معلوماتي تکنالوژۍ په مختلفو برخو کې د هغوی کارکوونکو ته د جلا کړنلارې مطابق جوړ کړي.

**مالي مرسته**

**دوه دیرشمه ماده:**

انستیتوت کولای شي د خپلو موخو د پرمختیا او پرمخ بیولو په منظور، د کورنیو

می توانند .

(۲) شرایط و چگونگی پذیرش اتباع خارجی بمنظور تحصیل در انستیتوت طبق طرز العمل جداگانهٔ که به تصویب شورای عالی و تأیید وزارت تحصیلات عالی می رسد ، تنظیم می گردد .

## فصل چهارم

## احکام متفرقه

**کورس های آموزشی**

**مادهٔ سی ویکم :**

انستیتوت می تواند درتفاهم با ادارات دولتی، مؤسسات غیردولتی و سکتور خصوصی علاوه بر فعالیت های تحصیلی خاص، حسب ضرورت و نیازمندی های مسلکی، کورس های آموزشی ارتقای ظرفیت را دررشته های مختلف تکنالوژی معلوماتی برای کارکنان آنها مطابق طرزالعمل جداگانه دایر نماید .

**مساعدت مالی**

**مادهٔ سی و دوم :**

انستیتوت می تواند مساعدت های اشخاص حقیقی و حکمی داخلی و

او بهرنيو حقيقي او حکمـــي اشخاصـــو مرستې دقانون د حکمونو مطابق جلـــب کړي او پدې منظـــور بـــانکي حســـاب پرانيزي او د قوانينو د حکمونو مطابق له هغو څخه ګټه واخلي.

د انستيتوت ارزونه

دري دېرشمه ماده:

(۱)د لوړو زده کړو وزارت د اکاډميکي کيفيت او اعتبار ورکونې د تضمين بورد، د انستيتوت علمي–اکـــاډميکي چـــارې ارزوي او انستيتوت پدې هکله لازمـــې آسانتياوې برابروي.

(۲)د اکاډميک کيفيت او اعتبار ورکونې د تضمين بورد، له ارزونـــې وروســـته د انستيتوت د فعاليت د دوام پـــه هکلـــه تصميم نيسي او د لوړو زده کړو وزارت له تأييد وروسته عملي کېږي.

خپرونه او مُهر

څلور دېرشمه ماده:

انستيتوت د ځانګړې خپرونې او مُهـــر لرونکی دی.

خارجی را به منظور انکشاف و پیشبرد اهداف خود مطابق احکام قانون جلب نموده و به این منظور حساب بانکی را افتتاح ومطابق احکـــام قـــوانین از آن استفاده نماید.

ارزیابی انستیتوت

مادهٔ سی وسوم :

(۱) بورد تضمین کیفیت و اعتبار دهی اکادمیک وزارت تحصـــیلات عـــالی، امور علمی – اکادمیک انســـتیتوت را ارزیابی نموده وانستیتوت تسهیلات لازم را درزمینه فراهم می نماید.

(۲) بورد تضمین کیفیت و اعتبـــاردهی اکادمیک بعداز ارزیابی در مورد ادامهٔ فعالیت انستیتوت تصمیم اتخاذ نموده و بعد از تأیید وزارت تحصیلات عـــالی عملی می گردد.

نشریه ومهر

مادهٔ سی وچهارم:

انستیتوت دارای نشریه و مهر مخصوص می باشد.

**انفاذ**

**پنځه دېرشمه ماده:**

**دغه اساسنامه په رسمي جريـــده کـــې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.**

**انفاذ**

**مادۀ سی وپنجم:**

**این اساسنامه از تاریخ نشر در جریـــدۀ رسمی نافـــــذ می گردد .**

## اشتراک سالانه :

در مرکز وولایات : (۹۰۰) افغـــــــانی

برای مامورین دولت : با (۲۵) فیصد تخفیف

برای متعلمـــین ومحصلین با ارائه تصدیق ،نصف قیمت

برای کتاب فروشی هابا ۱۰ فیصد تخفیف ازقیمت روی

جلدخارج از کشور : (۲۰۰) دالر امریکائی .

ISLAMIC REPUBLIC

OF

AFGHANISTAN

MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL

# GAZETTE

Law on Diplomatic and Consulate Employees .

Charter of the Infotmation and Communication

Technology Institute .

**Date: ۲۴ th April .۲۰۱۳**

**ISSUE NO** :(۱۱۰۵)